**محمد ایاز نوري آزادي** ۲۰۱۷/۰۱/۳۱

# د پاچا په وخت کښې دري د افغانستان ملي او رسمي ژبه وه

د عزتمند لیکوال شاغلي محمد داود مومند وروستی لیکنه ( ملي اکثریتي ژبه د پخواني پاچا په دور کښې )، چي د شاغلي قیس کبیر او زما په پته یي تقدیم کړله او ورپسی د محترم لیکوال محمد آصف خواتي وطنپال نظریات مي هم ولوستل او ورنه زده مي کړل. پخپله دغه د افغان جرمن سایت او دغه کړکی یي یو نعمت ده، چي د هیواد ګران افغانستان د تیر او اوس په باب حقایق روښانه شي، که مونږ په دغه بحثونو کي خپل منفی احساسات کنترول کړای شو، دا بیا یو غوره عمل دئ. ما خپلي لیکني ته پورتنی عنوان وټاکه. دلته لید لوری د هر افغان د پخوانیو پیښنو سره توپیر کوي. هغه عاملونه په یوه حکومتي وخت کي د شخصيي، کورني او خانداني مادي او معنوي ګټو تامین دئ، چي په طبعي توګه په هر چا او هر انسان خپل اغیز اچوي، لیکن شته خو کم داسی انسانان هم، چي په یوه دولتي حاکمیت کي به یي نوموړی ګټي خوندي وي، لیکن دئ بیا هم راځي او کلک او راسخ په حق او حقیقت د خلکو، وګړو او خپل ملت سره په خوار دسترخوان کیني، داسی انسانان کم دي، ځکه دا نو لویه بزرګي د یو کس هم ده.
ما په کړکی کي د شاغلي قیس کبیر هغه جمله ځکه وستایله، چي زما په نظر په یو لنډون کي لوی مفهوم ځای شوی وه، لکه یوه پښتو متل کي، چي وایي: ( په زور کلي نه کیږي... یا ترکاڼي د بیزو کار نه ده...) په دغه نیمو جملو کي ډېر لوی مفهوم ځای شوی دئ. د ژبي موضوع یوه عظیمه، حساسه او مهمه ملي مسله ده، چي دا بیا د دولتي مشر او مشرانو ملي ملکیت ده، چي د عدل او حقیقت په ډګر کي یي د ملت په حضور او مخامخ ګډون کي حل کړي. زه په تاریخي لحاظ دا منم، چي د لوی احمد خان نه بیا د هغه د زوی تیمورشاه په دربار کي درباري ژبه دری شوله، په داسی حال کي، چي دوی خو پښتانه افغانان ول، اما مشخص د اعلیحضرت ظاهرشاه په وخت کي دا، چي پاچا پښتو ژبي ته په درنه سترګه وکتل...! زما لیدلوری بیا بل دئ. نن او خصوصاً په دغه شلو وروستیو کلنو کي داسی تاریخي شواهد افغانانو د افغان معاصر تاریخ د زړه ځخه راوباسل، چي ردول او منکریدل ورنه نور نو شوني نه دي. پاچا ظاهر خان د محمد نادرشاه زوی وه او نن نادر خان په یو منطقي ثبوت سره د انګلیس یو منلی او توظیف شوی کس وه، چي په لوی مهارت سره یي اماني دولت البته د انګلیس د لاربښووني لاندي ووااهه. د هغه له وژلو نه پس بیا هم د انګلیس په پټ رضایت د هغه زوی اتلس کلن له دنیا بیخبره زلمی محمد ظاهر خان د بادشاهي پر مقام کینول شو او هدف د استعمار دلته دغه وه، چي دغه د لوی افغانستان پښتانه افغانان، چي په دریو

خپلو ملي او عادلانه محاربو کي یي د انګلیس زړه ورتور کړی وه، خپل غچ ورځیني واخلي.
دا، چي په ۴۰ لسیزه کي پاچا ملي ژبي پښتو ته په درنه سترګه وکتل، زه ورسره موافق نه یم. دا د حاکم مُجرم او ظالم خاندان یو مصلحت وه، چي دا د هیواد اکثریتي اوسیدونکي پښتانه مصروف وساتي. مثلاً د پښتنو د اغوا لپاره لوحي او عام بعضی نومونه لکه: کابل ننداري، ملي سینما، فلانی واټ او یا هم د پښتو ټولني رامنځ ته کیدل... دا د خاندان د صدق اعمال نه وه

اعلیحضرت محمد ظاهر شاه باید د یوه ملي مکلفیت پر بنسټ که پخواء ورنه پاتي وه په همدغه ۴۰ لسیزه کي، چي په هیواد کي تام امنیت جاري وه او د پاچا امر، امر وه، زما په نظر یو رښتیني لویه جرګه کابل ته راغوښتي وای. پاچا به لکه د ملک لومړی ملي مشر د خطابي میز ته پورته او د خلکو استاذو ته یي داسی ویلي وای: « **ما نن تاسو د یوه مهمي ملي موضوع د عادلانه او منطقي فیصلي لپاره دلته را احضار کړي یاست، چي د هغې په واسطه مونږ باید یو مظبوط ملت اووسو. تاسو په پوره آزادي د منل شویو ټولنیزو اصولو په رڼا کي موضوع په آرامو اعصابو او افغاني محبت کي سره وڅیړی او زه د یوه افغان په حیث تاسو ته مشوره درکوم، چي ماته په افغانستان د یوی ژبي ملي کیدل او رسمي کیدل راوړی، چي زه یي د پاچا په حیث هغه اړوند فرمان لاسلیک کړم، ستاسو په فیصله دا ژبه که پښتو وي او که دري وي او که ازبکي وي، دا ژبه به په افغانستان کښې ملي، رسمي، دفتري او د ټول هیواد د تدریس او دولتي چارې به پرې اجراء کیږي، باقي د هر افغان شخصي ژوند دئ، چي هره ژبه استعمالوي، اختیار لري».**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

پاچا په هغه وخت کي دا کار باید کړی وای، چي آسان یي کولای شو. که څه هم په پورتني تعریف کي هم هغه وخت دري ژبي هم هغسي مقام درلود. اوس حاصلات د دغه کرل شویو اغزیو دا دي، چي زمونږ تاجیک افغان په دې خجالت باسي، چي ما ولی د هیواد پښتو ژبه نه زده او پښتون افغان په دې څور باسي، چي زما اکثریتي ژبه ولی اقلیتي او توهین او رټل شوي ژبه وه او ده. زما په نظر ولی زمونږ په افغانستان کی دوه ژبې رسمي او دفتري وي؟ هو که د دې لپاره، چي ملت متفرق او افغانان د ژبو د رسی په کشولو کي تل مدام مصروف وي، بیا دا کار سم ده. آیا زمونږ د نړی په ۱۹۰ هیوادو کښي به داسی یو هیواد موجود وي، چي د هغه هیواد د مېشته اکثریتو ژبه دي په اقلیت کي راشي او دولت دي په بله ژبه هلته رسمي چاری او تدریس مخته بوزي؟ او که احیاناً داسی بدبخته او بی منطقه هیواد موجود هم وي، نو زه ولی د هغه نه تقلید وکړم...؟!.

محترم داود مومند صاحب پخپله مقاله کي وزیر محمد گل خان مرحوم د پښتنو ستر مشر مفکر نومولی دئ. زه لکه د یو د تاریخ زده کوونکی او حقیقت پلټوونکی دغه عرایض د مرحوم محمد گلخان په باره لرم. محمد گل خان داسی ښکاري، چي د غازي اعلیحضرت امیر امان الله خان په ویاړمن وخت کي هم یو نه عادي شخصیت وه. د استقلال د لویې معرکي په پیل کیدو کي مشر غازي، امان الله خان نوموړی د جنرال صالح محمد خان د پوځي فرقي درستیزوال وټاکه او پاچا قوماندان د فرقي او حتماً درستیزوال ته امر وکړ، چي تاسو به د تورخم انګریزي سرحدي ساحي ته ځی،هلته به زما دوهم امر ته انتظار کوی، چي کله د خوست او قندهار قواوي هم سرحد ته ورسیدلي، بیا به دغه دري محاذونه په یوه وخت په غلیم انګلیس یرغل وروړی. اما لکه څنګه، چي تاریخي اسناد، ښکاره کوي، قوماندان صالح محمد خان او ورسره درستیزوال یي سرحد ته په رسیدو پخپل سر تعرض کوي، قوماندان په ګوته تیپي کیږي، افغاني قواء شهیدان او تیپان ورکوي، ناکامیږي او بیرته تګ کوي. محمد گلخان هم دلته خپل مسوولیت لري،او که هغه کوم موجه دلیل لرلای باید د خپلو خاطرو په شکل یي حتماً دغه ډېره مهمه موضوع خپل ملت ته لیکلی وای، چي اصلي حال څه وه او ولي مونږ ماته ولیده. پاچا امان الله خان بیا جنرال او حتماً ورسره درستیزوال یي کابل ته خپل حضور ته احضار کړل او د خیبر د محاذ قوماندان یي له دندی بر طرف ،سپک او نظر بند کړ، چي زه لیکونکی فکر کوم، محمد گل خان به هم کوم شاباس له پاچا نه وي تر لاسه کړی، بلکه سپک شوی او رټل شوی به وي. کله، چي د شینوارو بغاوت د اماني دولت پر ضد پیل کیږي، هم دغه محمد گلخان د ننګرهار د عسکري فرقی قوماندان وي، لیکن دا بیفکره باغیان بلاخره د جلال آباد تر ښاره پوري رارسیږي او پوره خپل ملي ورانی کوي. اماني دولت له منځه ځي، د سقاو زوی حبیب الله پاچا کیږي، محمد گلخان قندهار ته غازي امان الله ته د مدد لپاره نه ورځي او د مکار او انګلیس رالیږلي جنرال نادرخان او ورونو سره یي د جنوب له خواء د سقاو د حکومت پر ضد مبارزه پیل کوي. د سقاو د حکومت د سقوط څخه پس کله، چي نادر خان د غازي امان الله خان د بیرته رادعوت کولو او د بادشاهي د مقام ورته سپارلو تر فیصلی لاندي هغه هم په قرآن مجید قسم او تعهد تر پښو لاندي کوي او ځان د افغانستان پاچا اعلانوي، محمد گلخان په دې ټول بهیر کي حقیقت په خپلو سترګوویني، لیکن ځان تیروي. بیا د نادرشاه په کابینه دئ، کم هم نه بلکي د کورنیو چارو وزیر ټاکل کیږي؟ زه د نادر خان دغه لوی اعتماد او علاقی ته حیران پاتی کیږم، چي هغه مکار او جاسوس د انګلیس نادر خان یي محمد گلخان مومند ته ورښیي.

دا، چي محمد گلخان د پاچا سره له زده په پښتو خبري کولي دا موضوع ما یو وار له خپل خدای بخښلي پلار څخه هم اوریدلي وه، البته زما پلار محمد گلخان سره کومه علاقه نه لرله او هغه یي د خاندان یو نازولی او ورته تسلیم کس باله. محمد گلخان لکه زیرک شخصیت باید د هدف د لاس ته راوړلو لپاره خپل سیاسي ګوند جوړ کړای وای او که فردي مبارزه یي د تایید وړ وه بیا حد اقل باید په شورا او نورو مهمو ځاینونو کي ستیږ ته ختلای وای، دا ظالم خاندان یي له ګریوان نه نیولای وای او د افغانستان د پښتنو او د پښتو ژبې د توهین کیدو آواز یي پورته کړی وای. زه لیکونکی د ثور د کودتا نه مخکی د کورنی سره د بلخشریف په ولسوالی کی اوسیدو، هلته یو شمیر زمونږ پتمن وطنوال ما لیدل، چط په کلیو کط په کرنه بوخت وه او خپله ګذاره یي پري کوله. هغوی وزیر محمد گلخان په درنښت یادوه او مینه ورسره وه، ویل یي دغه ځمکي مونږ ته وزیر صاحب راکړي دي، چي دا کار د مرحوم په نیکو اقداماتو کي حسابیږي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څیر و لولئ

البته دا شکایت د مومند صاحب سم دئ، چې د پښتو ژبې په مقابل خپله پښتنو افغانانو هم خپل ملي رسالت لکه څنګه، چې لازم او اړین وه سر ته نه دئ رسولای او تر ما پورې قصور لرو او منم یې. ستاسو مومند صاحب سره زه موافق یم، چې تاسو د یوه افغان لیکوال او محقق شاغلي اعظم سیستانی مثال ورکړی دئ، رښتیا هم دا پښتون افغان ، په همدغه افغان جرمن آرشیف کی تر ټولو لوی کتابتون لري، لیکن ټول مواد یې په دری ژبه لیکلي دي، په دې رقم د پښتو ژبې نه حمایه نشي کیدای.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ